# د اکرم الله ګران د شعر تجزیه د انسان دوستۍ په تناظر کښې

# ANALYZING IKRAMULLAH GRAN'S POETRY IN THE CONTEXT OF PHILANTHROPY

Atta Muhammad Helamand[1] Dr NoorulBasar Aman [2]


## Abstract

*It is evident that all the poets in general and the Pashto poets in particular have incorporated the theme of philanthropy in their works. Hailing from Charsadda district, Ikramullah Gran is one of those poets. Gran Baba's poetry, while encompassing various sub-themes other than Romanticism, prominently emphasizes philanthropy. His works convey a message underscoring the significance of self-respect, emphasizing the need for humane behaviour towards others. This article delves into the exploration of philanthropic themes within Ikramullah Gran's poetry.*


Key Words: Ikram ullag Gran, Pashto, Poetry, philanthropy

د پښتو په کلاسیکه شاعرۍ کې د عدم تشدد او انسان دوستۍ عظیم پیغامونه تر سترګو کېږي او د وخت شاعرانو دي برخې ته پوره پام کړی دے ـ په معاصر وخت کې هم په پښتنو کې داسې شاعران شته او وو، چې د تشدد په دې روان پیر کې یې هم د عدم تشدد سندرې بوللي او د یوویشتمې پېړۍ انسان، چې ټول تمرکز یې په اقتصادي پیاوړتیا او ځان بډاینه دی، چې ددې موخې د تر لاسه کولو په پار لوی لوی جنګونه رامنځته کوي، چې د دوی د وسلو او مهماتو لپاره تقاضا ډېره شي، که څه هم هغه د زرګونه انسانانو په مړینه او د میلیونونو په کډوالۍ تمامېږي، خو د دوی تجارت دې روان وي، د دې ټولو ترخو حقائقو تر څنګ داسې خلک هم شته، چې د انسان دوستۍ او له بشریت سره د مینې په پار یې خلکو ته خپل پیغام د

[1] PhD scholar, Department of Pashtu, Malakand University

[2] Assistant Professor, Department of Pashtu, Malakand University

شعر په ژبه وړاندې کړې دی. اکرام الله ګران زموږ د ټولنې داسې يو ټولمنلی شاعر وو، چې انسان او انسانيت يې د مينې محور وو، دی په خپله شاعرۍ کې د عدم تشدد او انسان دوستۍ ډېر رانه پيغامونه لري.

ګران د پښتو ژبې د معاصرې دورې د هغو شاعرانو د کتار په لومړي سر کې دی، چې عدم تشدد او انسان دوستی ته ژمن دی او له انسان سره بې حده او بې سرحده مينه پالي، ټولټال يې دوه ټولګې شاعري کړې، چې په دواړو کې د انسان دوستۍ، عدم تشدد، صله رحمۍ، عاطفې درس، د ظلم او کرکې خلاف د مينې په زغره د سنبال جنګ جنګيالی دی.

پښتون، چې په نړۍ کې د ننګيالي او جنګيالي قوم په نوم پېژندل کېږي په اړه يې د سيمې د خلکو تصور دا دی، چې پښتون پرته له جنګ، جګړو، يلغارونو او چپاوونو بل هيڅ نه دي زده او تل په دې فکر کې وي، چې څنګه د نورو په وړاندې خپل جنګي سنګر تود وساتي، خو که د پښتون تېر ژوند او شاليد ته د انصاف په جوهر پوښلې عينکې واچول شي، نو دا خبره به ډېره په اسانه مخې ته راشي، چې پښتون هيڅکله هم جنګ غواړی او جنګ خوښی قوم نه دی ــ تل يې د خپل خان په وړاندې د پرديو دسيسو په مقابل کې مقاومت کړی او د پښتنې ننګ له مخې يې چا ته غاړه نه ده کېږه کړې، چې د دوی همدا خصلت د زبر ځواکونو له لوري د دې قوم د بدنامۍ لپاره وسيله ګرځول شوې، زما ددې خبرې د ثبوت لپاره که موږ د پښتون قوم اصيل او سوچه فولکلور ته نظر وکړو، وبه مومو، چې دې قوم تل د ژوند سندرې ويلې او د خپل شاعرانه طبيعت په غېږ کې يې د مينې ټپې زمزمه کړې ــ خلک يې ژوند ته رابللي، له جنګ يې بېزارې ښودلې، عدم تشدد او انسان دوستي يې د مور د مهربانۍ په غېږ کې سندره کړې او خلکو ته يې د مهذب ژوند دستور ورکړی. د اکرم الله ګران د شعر تجزيه د

انسان دوستۍ په تناظر کې ما د مقالې لپاره ټاکل شوي موضوع ده، چې د ګران د انسان دوستۍ اروا د تسکین په پار دده په شاعرۍ کې پروت دغه جوهر د علمي او اکاډمیکو مېتودونو پر متن دخلکو مخ ته کېږدم.

## د اکرام الله ګران پېژندګلو:

**زوکړه:** د ۱۹۴۱ز کال ورځې شپې وې، چې د کوزې پښتونخوا د چارسدې په پړانګ یاسین زي کلي کې د میا فضل رحیم پاچا د مینې په اوور ګلبڼ کې یوه نوي ماشوم سترګې وغړولې، نوم یې پرې اکرام الله کېښود. اکرام الله د پړانګ یاسین زي د کلي په کوڅو کې خاپوړې وکړې، پاپلی قدم یې واخیست او چې کله یې شونده شنه شوه، د خپل ټولنیز ژوند په چاپیرچل کې شتو ټولنیزو ستونزو ته یې د خپل شاعران مزاج په مرغلین تارسندریز ساز او سُر ورکړ او په ادبي نړۍ کې یې د خپل شناخت او پېژندګلوۍ لپاره له خپل نوم سره د ګران روستاړی هم ور زیات کړ. د حضرت علي رضی الله عنه وینا ده، چې اسم پر مسمی تاثیر لري او دا خبره د ګران پر شخصیت کې هغه وخت لا ښه جوته شوه، چې په کم عمر کې ګران د لرې او برې پښتونخوا په ادبي چرګۍ کې د خپلې سلیسې، رواني او د سهل ممتنع تر بریده د عام فهمې شاعرۍ له امله ټولو ته ګران او منلی شو.

ګران د حسب نسب په لحاظ سره ددې سیمې د مشهور خدای رسیده بزرګ ولی الله حضرت سدی حسین المعروف په بهولا رح بابا په نمسو کې دی چې د شجرې لړۍ یې د خیشکي سیدانو په مزي کې حسیني سیدانو ته رسي. شاغلی ګران د شاعرۍ شوق د وړوکوالي نه کوي، په نثري او شعري دواړو څانګو کې مکمل عبور لري، په نثري ډګر کې یې څو خوندوري افسانې لکه سوالګره، ډمه او پیریان د ذکر وړ دي ــ ولې اوس نثر بېخي کم لیکي ــ شاعرانه جنون پرې دومره غالب شوی دی، چې هېر یې ډېر او یاداشت یې کم وي. د هشنغر په زمکه

کې په هېڅ دور کې د شعر او ادب د فن قحط سالي نه ده راغلې د ثبوت دپاره به د نوموړي دا شعر کافي وي:

د هشنغر زمکه غزل ټوکوي!

کله په دې زمکه د فن قحطي ده؟[3]

"یانې په هر دور کې پښتو ډېر ښه ښه پیاوړي کلاسیکي او نازکخیاله لیکوالان زېږېدلي دي ــ خو په تیره تیره پښتو علي خان بابا سر فهرست دی ــ ځکه چه د هغه د نازک خیالۍ رنګ ددې سیمې د ځنو شاعرانو په شاعرۍ کې برېښي ــ یقیناً چه ګران هُم په دغه کسانو شمار دی چه شاعري یې په نازک خیالۍ کښې د ځان سارې نه لري ــ د خوي خصلت په لحاظ دا فرښته صفته انسان یو قادِرُ الکلام شاعر دی چه د پښتو غزل په نوي کینوس کښې د اچولو دپاره ډېر ریاضت او خوارۍ کوي ــ خپل ټول صلاحیتونه یې ددې د اِرتِقا دَپاره په کار راوستي دي ــ د جدید تقاضو مطابق خپل غزل ته د نوي نوي ردیفونو او قافیو کلکې اډانړې ورکوي ــ ځکه خو یې هر شعر رنګین او سنګین لګي او په جدید پښتو دبستان کې د مُنفرِد حیثیت ښتن دی چه د شهرت ازانګې یې په لر و بر پښتونخوا کښې خورې ورې دی[4] ــ "

**کورنۍ ژوند:** د ګران بابا د واده د کره نېټې په اړه مې د هغه د مشر زوی ابوذر ځخه وپوښتل، خو ویل یې په دې اړه دقیق څه نه شي ویلی ځکه، چې بابا د خپل واده تاریخ چېرته نه دی لیکلی مګر ما، چې کله د ګران بابا لومړی شعري ټولګه (زما غزل) ولوست، په هغې کې د ګران د واده په ورځ د حمزه بابا له لوري هغه ته د واده په مناسبت د لیکل شوي غزل لاندې ۱۳۹۳هـ نېټه لیکل شوې، چې له دې حسابه د اکرام الله ګران د واده نېټه ۱۹۷۳زېږدیز او ۱۳۵۲ لمریز کال سره سمون خوري. د ګران د واده ثمره

3 ګران،اکرام الله(۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ایجوکیشنل پرنټرز مخ ۲۳
4 ارچیوال، احمد الله. (۲۰۱۸ز) خدایی خدمتګار کلتوري اغیزې. کابل: سروش کتابپلورنځی مخ ۲۵

دري اولادونه دي، چې مشره يې لور ده او ورپسې يې دوه زامن دي، چې دا مهال هم په خپل کلي چارسده کې ژوند کوي.

د اکرام الله ګران د واده تاريخ ۱۳۹۳ هـ ق

((پوهـ دې شي ارباب د
غزل
بېرته شو بل باب د غزل
ژوند شولو نغمو ته
جوړ
سُر چې رباب د غزل
ګرانه مبارک دې شه نن
جُوَت شو نصاب د غزل
در به کړي هوښياره
نشه
دا نوی شراب د غزل
ګرانه درته ګران نه
شي
دا غزل ځواب د غزل
جوړې ترې د ژوند اوبه
شوې
پاتې شو سَراب د غزل
ما ووې هاتفه ويه
غواړم آب و تاب د غزل
وې که لا پخوا شوې وې
وه به لا
شباب د غزل))[5]

5 ګران،اکرام الله(۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ايجوکيشنل پرنټرز مخ: ی ک

**زده کړې:** اکرام الله ګران د یوه روښاني شخص زوی دی، چې کورنۍ یې په سیدانو ورګډېږي، په خپله سیمه کې د زمکې او جایداد خاوندان دي، خو په پښتنو کې مشهور متل دی، چې کم جایداد په خپله نیستي ده، ځکه، چې په کر کیله به یې بند یې، خو اړتیاوې به دې نه پوره کوي ـ ګران چې کله د ښوونځي عمر ته رسېږي، په خپل کلي کې ښوونځی پیلوي او تر څنګ یې په خپلو زمکو کې پر کرکیله هم ځان بوخت ساتي ـ خو د کلونو په تېرېدو سره یې مسئولیتونه درنېږي، د کورنۍ لپاره په کارو بار اخته کېږي او زده کړې ترې په لسم ټولګي کې پاتې کېږي.

**د ګران آثار:** اکرام الله ګران د خپل شاعرانه ژوند په پیل کې د شعر تر څنګ یو نیم نثر هم لیکلو، چې په دې ترخ کې یې څو لنډې کیسې لکه ډمه، سوالګره او پیریان د یادونې وړ دي، خو ټول تمرکز یې په شعر کړی او په شعر کې یې هم غزل پاللې،که څه هم یو وخت ورته یو شمېر مشرانو ادبیانو دا هم ویلي وو، چې نظم هم لیکه مګر د غزل بابا امیر حمزه شینواری، چې جوهر شناس وو او په ګران کې یې د ښې غزلې د لیکلو وړتیا لیدله ورته یې ویلي وو، چې نظم به درکې د غزل روح ووژني، ته غزل لیکه، دا په داسې حال کې ده، چې ګران بابا په لومړي ځل، چې کوم څه د شعر په توګه لیکلي وو هغه د نظم په قالب کې وو، چې خواږه زهر نومېده ـ مګر وروسته یې ټول پام د غزل پاللو ته اړولی او لکه څنګه یې، چې نثر له غزل قربان کړی همداسې یې نظم هم د غزل پښو ته کېنولی وو.
ګران د غزلیزې شاعرۍ دوه ټولګې چاپ شوي، چې یوه یې " زما غزل " او بله یې " ژوند د خیال په ائینه کې" نومېږي، چې د هرې ټولګې تفصیل به په لنډ او جلا ډول وړاندې کړو.

**زما غزل:** پر دې کتاب د ګران بابا د تاثر په ترخ کې هغه

ویلي، چې زما به شعر لیکل خوښېدل، خو د شعر د ساتلو هېڅ وړتیا او ذوق مې نه لرلو، غزل به مې په یوه کاغذ ولیکه او جېب کې به مې پروت وو، هېڅکله مې داسې نه دي کړي، چې خپل نوی کلام په یوه کتابچه کې ولیکم او خوندي یې کړم. دی وایي، کله، چې بټ خېلي ته په کاروبار، خواری مزدوری پسې لاړم، نو له سید ذاکر حسین او علي اکبر سیال سره مې وپېژندل، دوی دواړه دا وخت زده کړیالان وو او زما ډېري غزلې او شعرونه یې یاد وو ــ نه پوهېږم چې له کومه یې راپیدا کړي وو ــ خوپه خپلو کتابچو کې یې زما لوی شمېر غزلې لیکلې وې او تل به یې رانه د هغو غزلو د بشپړاوي هیله کوله چې له دوی سره به په کتابچو کې نیمګړې وې ــ کله چې له بټ خېلي نه کور ته راغلم نو زما هغه شاعري، چې ما ورکه ګڼلې وه په لاس راغله ــ هغه داسې چې زما مشرې خور به کله زما جامې مینځلې نو زما له جامو به یې پر کاغذ لیکل شوي شعرونه راواخیستل او له ځانه سره به یې خوندي کړل ــ ما د شعري کتاب له چاپ سره هېڅ لېوالتیا نه لرله، خو کله چې د ملګرو فشارونه زیات شول نو بیا مې یو څه شعرونه ورکړل او د کتاب لپاره مو (زما غزل) نوم غوره کړو ــ زما غزل په ۲۰۰۲ کال کې چاپ شوی، د منځ کاغذ یې اخباري او مجلده پښتی لري، چې ټولټال په کې ۲۱۷ غزلونه چاپ شوي دي، په دې ټولګه کې د ګران تر ټولو لومړی نظم چې خواږه زهر نومېږي هم شته، چې په ۱۹۵۹ز کال په رڼا مجله کې چاپ شوی.[6]

**ژوند د خیال په ائېنه کې:** دا د ګران بابا دویمه او وروستی شعري ټولګه ده ــ چې په ۱۳۹۴ل کال په پېښور کې د یونیورسټي بک ایجنسی له لوري چاپ شوې، ددې کتاب ټوله شاعري غزلیزه ده، لکه څنګه، چې ګران بابا د کتاب چاپونې ته له پیله ډېر په بیړه کې نه وو نو وروستی کتاب یې

[6] ګران،اکرام الله(۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ایجوکیشنل پرنټرز

هم د هغه د ساړه مزاج له امله کلونه کلونه وځنډېدو ــ په دې کتاب کې ټولې ۲۴۴ غزلې چاپ شوي دي. کتاب په اخباري کاغذ کې چاپ شوی چې کلکه پښتۍ لري ــ پر دې کتاب یوشمېر لیکوالو نظرونه ورکړي.

**د ګران مړینه:**

ښه خو دا چې د چا نوم په کې یادېږي
په فاني دنیا به نه وي ژوندی تل څوک [7]

هو! ګران هم ومړ او له دې فاني نړۍ جسماً لاړ، مګر د هغه فکر، د هغه هنر او له انسانیت سره د هغه لامثاله مینې هغه له تلپاتي ادبي ژوند څخه برخمن کړی ــ تر څو، چې د پښتو ژبې پر الفبا شعر او نثر لیکل کېږي ګران به په کې یاد وي او دا ځکه، چې ګران له انسانیت سره مینه کړې او دا مینه د هر دور، زمان او مکان د انسان تقاضا، هیله او ارمان دی.

"ګران د عمر (۷۳) سپرلي خزان کړل او بالاخره د اوږدې ناروغۍ وروسته په د ۲۰۱۴ کال د دسمبر پر ۱۱ نېټه وفات او په خپل کلي کې خاورو سپارل شوی دی"

**د عدم تشدد پېژندنه:**

د ولسي مبارزې یا له تشدد پرته د حق غوښتنې لارې ته بېلابېلو تعریفونه شته ــ خو جین شارپ ولسي مبارزه یا عدم تشدد د مبارزې هغه ډول ګڼي ــ

"چې مبارزین په کې د رواني، ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي لارو چارو او یا د دوی د یو مخلوط له لارې مبارزه کوي. په ولسي مبارزې باندې د پوهېدلو لپاره پر دې فلسفي اصل سر خلاصول اړین دي، چې چارواکي د حکومت کولو لپاره پر یو لړ هغو وسایلو، چې له ولس سره شتون لري متکي دي، دغو وسایلو ته لاسرسی د ولس له خوا حکومت ته غاړه ایښودل

[7] مطهري، عبدالعلي. (۱۳۸۷ل) خوشحال کلیات.تهران: علومو اکاډمي مطبعه مخ ۱۲۱

او لـه چاروا‌کـو سره همکاري د چاروا‌کـو لـه خوا د حکومت کـولـو لـپاره تـر نـورو ډېـر مـهم دي. د عدم تـشدد مـبـارزيـن لـه چاروا‌کـو دغه وسايـل بـېرتـه اخلي او کـلـه، چې دغه وسايـل بـېرتـه واخيستل شي، چاروا‌کي بـيا حکومت نـه شي کـولـی"[8] — فـخر افـغـان بـاچا خان د عدم تـشدد د پـېژنـدنـې پـه اړه داسې ويـلـي —

"د عدم تـشدد پـه اړه خلک عجيب عجيب خيـالات لـري او رنـګا رنـګ پـروپـاګـنـد پـسې کـېږي، اکـثره يـې نـاسم ارزوي او د غلط فـهمۍ ښکـار دي. ځيـنـې ځيـنـې وايـي کـه څوک دې د مخ پـه يـوه خوا پـه چـپلاخه ووهي نـو تـه دا بـلـه ورتـه ونـيـسه، ځيـنـې وايـي تـه ورتـه پـرېـوځه او دوی پـرېـږده چې دربـانـدې خېژي — ځيـنـې بـيـا وايـي دوی دې تـا وهي او تـه ورتـه هېڅ مه وايـه، بـس غلـی پـروت اوسه، ځيـنـې دا هم وايـي، چې پـښتـانـه غيـرتـي قـوم دی غفـار خان يـې بـزدلـه کـوي. عدم تـشدد کټ مټ د تـشدد پـه شان يـو طاقت دی او د هغه غونـډي پـوځ لـري — فـرق يـې دا دی چې د عدم تـشدد وسلـه تـبـلـيـغ او د تـشدد دا تـوپـک دی، لـومړی پـه خلـکـو کې مـيـنـه او دويـم کـرکـه، کـيـنـه او بـزدلـي پـيـدا کـوي. بـعضې وايـي، چې د خپـلـې دفـاع لـپاره بـايـد سړی تـشدد وکـړي، خو دی تـه يـې پـام نـه دی، کـه تـشدد دې وکـړ؛ نـو د عدم تـشدد لار دې پـرېـښوده، پـه داسې حال کې، چې پـه عدم تـشدد کې هم دفـاع شتـه. د عدم تـشدد لـويـه خوبـي دا ده، چې مـاتـه پـه کې نـشتـه، لـيـکـن لـه تـشدد سره مـاتې تـړلـې ده، عدم تـشدد هم د تـشدد غونـډي يـو نـظام دی، عدم تـشدد پـالـل اسان، خو تـشدد پـالـل ډېـر ګـران دي." [9]

عدم تـشدد د سيـاسي، اقـتـصادي، ټـولـنـيـزو او فـرهنـګي نـاانډيـوالـيـو او دحاکم نـظام د نـاسمو پـالـيـسيـو پـه وړانـدې

---

[8] ارچيوال، احمد الله. (۲۰۱۸ز) خدايی خدمتګار کلتوري اغيزې. کابل: سروش کتابپلورنځی مخ ۳۷

[9] باچا خان، عبدالغفار. (۲۰۰۸ز) زما ژوند او جدوجهد. پيښور افغانستان کلتوري ودې ټولنه – جرمني، دانش خپرندويه ټولنه، مخ ۵۶

د داسي مبارزي نوم دی، چي په ترخ کي يي هيڅ يوه لوري هغه که مبارزين دي او که هغه لوری، چي په وړاندي يي مبارزه کيږي ضرر ورته نه رسول کيږي، عدم تشدد له تاوتريخوالي پرته مبارزه ده.

**په پښتنو کي د عدم تشدد تاريخچه:**

په شلمه پيړی کي، چي انګريزانو برتانوي هند او ورځيږمه هيوادونه د خپل استعمار لاندي راوستي وو نو افغانستان او تولي هغه سيمي، چي پښتانه په کي ميشت وو — هم ددوی تر واک لاندي وو — که په بره پښتونخوا کي شاه زلمي شاه غازي امان الله خان د انګريزانو په وړاندي د ازادی جنډه نيغه کړي وه نو په کوزه پښتونخوا کي بيا فخر افغان د هند له مهاتما ګاندي جي سره په همغږی د انګريزي ښکيلاک په وړاندي د ازادی ناره بدرګه کوله

((شاه امان الله خان غازي، چي د سلطنتي کورنی زلمی وو او هلته د حالاتو غوښتنه دا وه، چي د توري او مټ په زور به ازادي اخلي، خو خان زاده عبدالغفار خان بيا د پښتنو په وجود کي د ننوتي ميکروب يانی ځانځانی، خپل منځي شخړو، نه زغم او د يوه بل په وړاندي په وره خبره د سنګر نيوني د ناسور له منځه وړلو لپاره غوره وګڼله، چي د ازادی دغه مبارزه به په يوه نوي ميتود او کړنلاري سره مخ ته وړي او هغه کړنلاره د عدم تشدد کړنلاره وه.

فخر افغان د خپلي دي مفکوري د عاملو لپاره له خپلو ملګرو سره مشوري وکړي او دا فکر يي په تولو کي ترزيق کړ، چي د انګريز په وړاندي د وسله والي مبارزي په پرتله د نه تاوتريخوالي هغه به موثره ځکه وي، چي له يوه اړخه پښتانه د ځانځانی له امله کمزوري شوي او له بله پلوه د انګريز مجهز وسله وال پوځ به يي په وړاندي له هيڅ رحم کار وانخلي، بله موخه، چي د باچا خان درلوده هغه په پښتنو کي د زغم د تاريخي خصلت او برم راژوندي کول

وو، چې دا موخه یې په پای کې په ښه شان تر لاسه هم کړه.[10]

ـ

باچا خان له ډېره وخته د پښتنو د سمون لپاره هلې ځلې پیل کړې وې، خو د وخت په تېرېدو سره دې پایلې ته رسېدلی و، چې پښتانه د خپلو کورنیو دښمنانو څخه له خلاصون پرته پرمختګ نه شي کولی، باچا خان به ویل ــ

" تر هغې، چې پښتانه د تش په نامه مشرانو، خانانو او خان بهادرانو له منګولو خلاص نه شي، پرمختګ نه شي کولی"[11]

ـ

## د ګران د شاعری ځانګړنې:

د رښتیني او تلپاتې شاعری استعداد لرونکي شاعران متفاوت خاصیتونه لري او له هرې شاعرانه شېبه سره د تخییل په مټ نردې پاتې کېږي. ځینې وخت داسې هم کېږي، چې دوی مینې ته ډېره موده شعر ویلی وي اخر دې حد ته رسېدلی وي ــ دا هم ویل کېږي، چې ځینې خلک په وچ زور شعر لیکي او ځینو ته الهام کېږي، دلته زه بیا یوې بلې خبرې ته متوجې شوی یم او هغه دا چې زه به دا ومنم، چې شعري الهام شته او د ریاضت او الهام شاعري تلپاتې شاعري ګڼل کېدای شي، خو زما، چې کوم تکې ته فکر دی هغه دا دی، چې الهام یواځې د شعر منځپانګه یا پیغام نه دی، چې شاعر ته کېږي او ښایي ځینو ته یواځې د شعر د پیغام الهام کېږي ــ خو ځینې داسې شاعران هم شته، چې هغوی ته د پیغام تر څنګ د پیغام لپاره د الفاظو الهام هم کېږي ــ د الفاظو بحث او بیان ځکه راته مهم برېښي، چې ډېر کله شاعر یو ډېر ښه پیغام د الفاظو د کمښت له امله هغه شان نه شي وړاندې کولی څنګه، چې د پیغام تقاضا ده، مونږ دا هم وایو او اورو، چې د فلاني په شاعری کې تراشلې

[10] ژړک، محمد صادق. (۲۰۱۷ز) پښتونواله. کوټه: پښتو نړیواله مرکه مخ ۲۳
[11] باچا خان، عبدالغفار. (۲۰۰۸ز) زما ژوند او جدوجهد. پېښور افغانستان کلتوري ودې ټولنه – جرمني، دانش خپرندویه ټولنه، مخ ۲۳۴

بیتونه ډېر دي، دغه تراشلي بیتونه هماغه بیتونه دي، چې شاعر ته یې هم د پیغام او هم د الفاظو الهام شوی. اکرام الله ګران یو له هغو شاعرانو دی، چې هم ورته د پیغام الهام شوی او هم د پیغام د تمثیل لپاره د الفاظو، د هغه د شاعرۍ عجیبې ځانګړنې هغه د خپل وخت د شاعرانو څخه بېلوي او د یوې معلومې، روښانه او ټولمنلي لارې لاروی یې ګرځوي، هغه ځانګړنې دا دي، چې ګران سر تر پایه ولولئ شعر یې یواځې او یواځې د عدم تشدد، انسان دوستی او مینې پیغام لېږدوي، بله ځانګړنه یې دا ده ـ چې ګران په شعر کې د خپل ورځني ژوند مشاهدې ډېرې ښې را اخلي، چې دا د هر چا د وس خبره نه ده، د شعر لپاره داسې مانوس الفاظ کاروي، چې هر څومره یې د ظرافت په تله دقیق وتلې نامانوسیت یې د شعریت پر اوږو نه بار کېږي، د ګران د شاعرۍ بله مهمه ځانګړنه دا هم ده، چې هغه د خپلې ټاکلې لارې (انسان دوستی او عدم تشدد) پر پل تر پایه ولاړ پاتې کېږي او د یو شمېر نورو شاعرانو غوندې یې کله د خط و خال،کله انقلابي، رزمي او فلسفي شاعري نه ده کړې بلکې خپله لار یې پاللې او ساتلې ده.

## د ګران په شاعرۍ کې عدم تشدد:

اکرام الله ګران د عدم تشدد د لاروي او په شعر کې د انسانیت د پیغام د رسونکي په توګه بېخي مشهور او ځانګړی مقام لري ـ نو زمونږ هڅه به دا وي چې د ګران له شاعرۍ هغه تراشلي بیتونه، چې زما د مقالې سره اړخ لګوي راواخلو نظر پرې څرګند کړو ـ نن سبا په ټولنه کې د خلکو تر منځ خواخوږي، همدردي او غمشریکي بېخي د نشت پولو ته نږدې شوې ده او هر څوک په دې هڅه کې دی، چې د خپل ځان د هوساینې لپاره لاس په کار شي که څه هم دده

دا هڅې د نورو خلکو ارام او خوشي ژیانمنوي هم – د یو ویشتمې پېړۍ د ژوند بې سابقې امکانات او د خلکو حرص ته په کتنه هېڅوک به دې ته تیار نه شي، چې ووایې زه د ژوند دغه اسانتیا نه ددې لپاره تېرېږم، چې یو بل انسان ترې برخمن شي دا که څوک په فردي لحاظ حسابوي هم صدق کوي او که په ټولنیز تناظر ورته ګوري هم د تائید وړ ده. د یو بل نه زغمل، خو زمونږ هغه رنځ دی، چې له پېړیو راهیسې مو ترې ژړلي او دا مو د خپلې پښتو کسرِ شان ګڼلی، چې یو څوک دې راته یوه ستغه وکړي او مونږ یې په څواب کې پنځه ونه کړو. اکرام الله ګران بیا ددې ټولو مسایلو، حالتونو او واقعیتونو خلاف خبره کوي او دې ته حاضر دی، چې د نورو د خوښی لپاره خپل زړه چاودلی وساتي – چې همدا د انسانیت تقاضا هم ده او له تشدد نه د ګران د نفرت ثبوت هم!

خدایه په ما خوشحالي مه راولې
چرته غمژن د یار غمونه نه شي
زه خو به خېر په مره لاره زغمم
تاته بلا دي خپل ظلمونه نه شي
د ګران زړګیه تق چاودلی شه یې
خو چې خفه د خلقو زړونه نه شي[12]

انسان ته اشرف المخلوقات ځکه ویل شوی چې ده ته یې د خبرو کولو تر څنګ عقل او شعور دواړه ورکړي – چې وکولی شي د خپل ژوند د رنګینی لپاره ترې ګټنه وکړي کله، چې انسان د مینې، زغم او شرف لاره پرېږدي – نو بیا یې هغه ځانګړنه هم تر سوال لاندې راځي، چې له مخې یې دی اشرف المخلوقات یاد شوی دی، زمونږ په ټولنه کې د ګڼو لاملونو له مخې د تشدد کچه لوړه ده، چې ستر هغه یې بې سوادي یادولی شو، ګران هم

[12] ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ایجوکېشنل پرنټر مخ ۷

د خپل چاپېرچل حالاتو ته په کتنه، چې د محبت کمی په کې بېخي محسوس دی ویلي دي، چې زموږ د زړونو خزانې د مینې له سکو خالي دي او که چېرې مو دغه شتمني ولرله نو بیا به د انسانانو تر منځ تشدد پر عدم تشدد بدل شي او ژوند به د ژوند اصلي مانا خپله کړي ـ ګران په لاندې بیت کې خلک د مینې او عاطفي سلوک ته رابللي ـ د عدم تشدد پیغام ورکوي او خلکو ته وايي چې زموږ د اوسنیو جنجالونو سرچینه په زړونو کې د محبت نشتوالی دی ـ

که محبت غالب د زړونو په وطن باندې شو
په زور د یو انسان به بل انسان ته لاس نه رسي [13]

په نړۍ کې د هېڅ شي خلقت پرته د کوم معلوم مقصد څخه نه دی شوی، انسان هم د خپل ماموریت د بشپړاوي لپاره پېدا شوی، چې د خدای جل جلاله عبادت، په ټولنه کې د نظم راوستل او د انسانانو تر منځ د شو اړیکو پالل دي، دا د انسان د پېدایښت هغه مقاصد دي ـ چې بنده یې له خپل رب سره ژمنه کړې ـ خو ځینې خلک بیا ددې مقاصدو تر څنګ په فردي لحاظ د خپلې ټولنې په وړاندې ځانګړې مسولیت هم په غاړه اخلي، خپله موخه یې ګرځوي. د لویو ټولنیزو انسانانو ځانګړنه دا ده، چې خپله ټاکلې موخه په هېڅ وخت و قیمت نه پرېږدي او خپل مرام ته ځان رسوي، ګران هم په ټولنه کې د نفرت، عداوت او کرکې په وړاندې د محبت ډال پورته کړی او چې په وړاندې یې د نفرت د باد هر څومره تېزې څپې راغلي، ده یې په وړاندې مقاومت کړی او په لوړ غږ یې ویلي، چې نه کنه! دا زما له شانه سره نه ښایي، چې زه به د نفرت په وړاندې د پیل کړې مبارزې ډال پر زمکه ږدم، بیا خو به زما خپله خودي او معصوم محبت مې راته پېغور راکړي، چې مات شوې، د انسانیت لپاره د همدې پیغام پورته کړی غږ یې په لاندې بیت کې اورو:

[13] ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ایجوکېشنل پرنټر مخ 31

زه د نفرت جبر ته څنګه توره ډال کېږدمه

زما معصوم محبت ما ته به پېغور راکوي [14]

د ګران د شخصيت ودانۍ د مينې پر اوبو د لمدو شويو خښتو څخه داسې رغول شوې، چې ټول عمر يې د محبت سندرې ويلې، د مينې خواږه يې په خلکو ويشلي او خلک يې د انسانيت په مانا او معيار پوره ژوند ته رابللي، که څه هم چا به يې غږ ته هغسې، چې دده او د وخت دواړه تقاضا وه لبيک نه وي ويلی، خو هغه خپله دنده، چې د تشدد په وړاندې دريدل او د مينې پيغام عامول دي، نه ده پرېښې، چې په لاندې بيت کې يې خپل حالت داسې بيان کړی ـ

ګران په هر چا خواږه د مينې وېشي

يو طلبګار چرته کې نه ښکارېږي[15]

د دښمن ويی د پښتو په ويپانګه کې معلومه مانا لري، چې هېڅکله نه ده بدله شوې، کله، چې د دښمن ويی له خولې راباسو ـ نو زموږ ذهن ته د داسې يو چا تصوير مجسم کې چې وحشت کرکه او بربريت به يې په څېره کې څپې وهي، هر انسان له دښمن نه کرکه لري او بد ورته ګوري، خو داسې انسانان هم شته، چې خپل دښمن هم ورته ښکلی ښکاره شوی او دا چې څه شي ورته د دښمن تصوير هم ښکلی ښکاره کړی هغه به وروسته ولولو، خو دا هر څه هغه وخت ممکن دي، چې انسان د نړۍ ټول انسانان/مسلمانان لکه، څنګه، چې زموږ دين حکم کوي او د انسانيت تقاضا ده د يو بدن غړي وګڼو، يو بل ته مينه ورکړو او عدم تشدد د ژوند ائين وګرځوو. اکرام الله ګران په خپل لاندې بيت ډېر مشهور شو او دا بيت يې نږدې د هر هغه پښتون ياد دی، چې د شعر له نړۍ سره

[14] ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ايجوکېشنل پرنټر مخ ۱۰۶
[15] ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ايجوکېشنل پرنټر مخ ۱۲۳

ذره شناخت لري. ګران په دې بيت کې د مينې دکراماتو او له زړه نه د ويستلي کرکې اظهار په داسې الفاظو کړی، چې د شعر د پيغام او د الفاظو ساده ګي يې يو ځای د زړه په ور ننوځي، ګران د ژوند د رنګينۍ لپاره د مينې په رنجو د سترګو تورول اړين بولي ــ

ما ته اوس خپل دشمن هم شکلی ښکاري
مينې مې دا رنګه نظر ومينځه

د درد د ځړيکو د زمزم په اُبو
ګران د قاتل د لاس خنجر وُوينځه [16]

که چا له اکرام الله ګران سره ناسته ولاړه کړې وي، له هغه سره يې مجلس او بنډار کړی وي؛ نو د هغه د شخصيت په اړه به دا خبره راسره ضرور مني، چې هغه په رښتيني ژوند کې هم داسې څوک وو، چې هېڅکله ترې ددې تمه نه شوه کېدای، چې هغه دې پر چا لاس پورته کړي او يا دې پر چا تېری وکړي، ګران د يوې خاموشه او مهذبې طبعې خاوند وو او په ټوله مانا يې تشدد بد ګڼلو او ترې يې ځان ساتلی دی، هغه په رښتيا، چې د مينې کروندګر وو او تل يې له خپل کر سره مينه کړې، هغه تل د انسانيت پر صحرا کې د مينې زړي شيندلي او پاللي دي.

ما که څوک وژني لاس يې هم نه نيسم
زما په يو حالت کې شر نه لګي
هغه دهقان يم که له لوړې مرمه

---

[16] ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ايجوکېشنل پرنټرز مخ ۲۸

بغیر له مینې مې بل کړ نه
لګي[17]

چې د حالاتو په عذاب کښې نه وي
داسې ژوندون هډو حساب کښې نه وي
د داسې څښو به څه مزه وي
ساقي
چې په سایه د احتساب کښې نه
وي[18]

کله چې د ژوند په کشمکش کې د ژوند د کیفیت راز نغښتی دی؛ نو له هغو اشخاصو بیا مننه په کار ده، چې پر خندا و خار مو اړوي او دلته به نو تشدد و خشونت ته څه دلیل پاته شي؟ ګران همدا کار کوي ــ

دومره احسان خو د دې خپلو حریفانو
منو
ډېوې ډېوې مو تصور شو د ظلمت د لاسه
[19]

او دا بل یې هم د همدغې سوله خوښې روحیې برجسته نماینده ګڼلی بویه:

هر یو غشی د ستم ته هرکلی
کړي
مېلمه دوست زړګی مې ډک د مروت دی[20]

او دلته چې د دوستی او دښمنی سرحدونه سره ګډیږي و ورکیږي، د ژوند سیمه یومخیزه د انسانیت و صمیمیت او خواخوږی و

[17] ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ایجوکېشنل پرنټر مخ مخ ۱۲۲
[18] ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ایجوکېشنل پرنټر مخ ۶۲
[19] ګران، اکرالله (۱۳۹۴ل) ژوند د خیال په ائینه کې. پېښور: یونیورسټټي بک ایجنسي مخ ۲۱
[20] ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ایجوکېشنل پرنټر مخ ۶۵

وروروله پـه قـلـمرو بـدلـيږي، هلـته، چې د تـشدد احتمال صفر تـه تـقـرب کـوي:

يارانو تـه لـوګـی شو، حـريفانو تـه لـوګـی شـو
مونږ هغه سپېلني يو چې هر چا تـه لـوګـی کـيږو[21]

**د عدم تشدد پـه تـناظرکې د ګران د لـومړۍ او وروستۍ شاعرۍ پـرتـلـه** د اکرام الله ګران د شاهانه ملنګۍ، سرشاره او خوداره شخصيت پـه اړه مو پـه تېرو مخونو کې ډېر بحث کړی، هغه د خپل ژوند ټـول اړخونـه دې تـه بخښلي وو، چې لـه انسانيت سره مينـه وکړي او پـه دې برخه کې هغه مسئوليت، چې د انساني رسالت لـه مخې يې پـه وړاندې ده خپل ځان مسئول ګڼلو ادا کړي. ګران پـه داسې کورنۍ کې نړۍ تـه راغلی، چې د خوشحالـه ژوند لـپاره يې د مادي امکاناتو پر شتون هېڅ باور نـه درلـود او د ټـولـو ستړيـاو او ناهيلو لـپاره يې مينـه بس ګڼلـه، همدې روحيې او فکر ګران داسې ټـولـمنلـی کړ، چې نن هم ورتـه پـه لـره او بره پښتونخوا کې پـرتـه لـه دې، چې کومه رسمي اکاډمي، وزارت يا بلـه اداره د بابا لـقب ورکړي، هر هغه څوک يې بابا ګڼي، چې د ګران لـه فن او شخصيت سره اشنا وي.

نـو پـه لـنډ ډول ويلـی شم، چې ګران هېڅکلـه هم د ماديـاتـو لالـچ لـه خپلـې مينې، ارمان او ايـډيال څخه نـه دی راګرځولـی او د هغه وروستۍ شعري ټـولـګه (ژوند د خيال پـه ائينـه کې) هم هماغسې د مينې، انسانيت، بشر دوستۍ او عدم تـشدد پـيغامونـه لـري،څنګه، چې يې مونږ پـه لـومړي شعري کتاب (زما غزل) کې ولـوستل.

زه د ګران د دواړو شعري ټـولـګو لـه مطالـعې دې خبرې تـه متـوجې شوم، چې ګران پـه وروستۍ شعري ټـولـګه کې د تېر پـه

21 ګران، اکرالله (۱۳۹۴ل) ژوند د خيال په ائينه کې. پېښور: يونيورسټي بک ايجنسي مخ ۹۹

خلاف پر یوه خبره ډېر زیات تکرار کړی او هغه دا چې دی د مینې، انسان دوستی او عدم تشدد په اړه د خپلې لارې په تعقیب کې د یو شمېر خلکو له نیوکو، لار نیونو، پېغورونو او... له لاس تنګ شوی او په بار بار یې د خپل ځان په اړه وضاحتونه کړي، چې زما لار یوائې د مینې او انسان دوستۍ لار ده، زه نه قاتل یم، نه جابر او ظالم یم او نه د دې ډلې ملګری یم ــ زه په خپله لار روان شه یم او تاسې په خپل کار بوخت شه یاست.

ګران د خلکو له لوري د کاڼو د وېشتو یوائېنی دلیل دا راوړي، چې زه د مینې انسان یم او له نفرت سره مې جوړه نه ده؛ نو ځکه مې خلک په کاڼو ولي.

د هر یو کس لاسو کې کاڼي دي او ولي پرې مونږ
دا مو قصور دی د نفرت نامه په ځان نه پرېږدو[22]

ګران د خپلې مینې خزانه د قارون په خزانه نهٔ بدلوي ــ او دغه خزانه یې د هر خاص او عام د پاره خلاصه نېولې ده ځکه چې د مینې خزانه نهٔ خلاصېږي او نهٔ خالي کېږي ــ

زه قارون د مال دولت نه یمه ګرانه!
زه د مینې خزانه یم، چې چا یوړم[23]

مخکې مو هم دا خبره وکړه، چې ګران په دې ټولګه کې د ځان په اړه ډېرو وضاحتونو ته اړ شوی او دلیل هم همدا دی، چې زموږ د ټولنې خلک په دې قانع کول ډېر ګران وي، چې تا خپلې خوښې ته پرېږدي؛ نو ګران اړ دی، چې د ځان په وضاحت کې ووایي:

د نفرتونو چړې نه یو، چې مرې غڅوو
د مینې غشي یو والله په هر ځیګر ولاړ یو[24]

22 ګران، اکرالله (۱۳۹۴ل) ژوند د خیال په ائینه کې. پېښور: یونیورستټي بک ایجنسي مخ ۱۲۸
23 ګران، اکرالله (۱۳۹۴ل) ژوند د خیال په ائینه کې. پېښور: یونیورستټي بک ایجنسي مخ ۴
24 ګران، اکرالله (۱۳۹۴ل) ژوند د خیال په ائینه کې. پېښور: یونیورستټي بک ایجنسي مخ ۴۱

ګران بيا د خپل فطرت نه هم مجبور دی او نه غواړي، چې د همده منتقد هم په کومه ستونزه کې راګير شي او ورته وايي:

زموږ د بدلمنو سوزېدو مه کوه غم
ناصحه! چرته رانه شي په تا د مينې اور[25]

د انسانيت کمال ته د رسېدو لار يواځې د مينې لار ده، کبر او غرور انسان له ګړنګونو غورځوي او نه يواځې دا چې په ژوند کې به هېڅ د حساب وړ لاسته راوړنه ونه لري ــ بلکې همدا کبر به يې د زوال لامل هم شي.

د کبر لاره خو زوال ته رسي
بغير له مينې څوک کمال ته رسي[26]

د نورو د خوشحاليو لپاره د خپلو خوشيو له لاسه ورکولو ته ايثار وايي او دا د انسانيت په ګانه د هغو سمبالو انسانانو کار دی، چې لوی رب جل جلاله خاص د همدې لپاره زوکړي وي، ګران هم تل د نورو د خوشحاليو لپاره په خپل زړه تيږه ايښې او هڅه يې کړې، چې څوک تری ازار نه شي او د نورو لپاره د هوساينې لامل شي.

د چا د زړه د خوشحاليو لپاره
لکه د ګل هسې سپړلو کې سوزم[27]

نه خو انسان له موره بدبين، قهرجن، متشدد، جابر او ظالم پيدا شوی او نه د انسان ماموريت دا دی، چې دی دې په ټولنه کې شر جوړوي؛ بلکې ددې ټولو چارو لامل هغه چاپيرېال او د ټولنې وګړي دي، چې انسان په کې ژوند کوي، که چېرې يو څوک له شو خلکو سره ناسته ولاړه وکړي نو ضرور به دی تری متاثره کېږي او ښې چارې به ترسره کوي او که چېرې له داسې خلکو سره کېني، چې هغوی خپل ژوند داسې عيار کړی، چې تل په کې نورو ته درد ورکړي،

25 ګران، اکرالله (۱۳۹۴ل) ژوند د خيال په ائينه کې. پېښور: يونيورستټي بک ايجنسي مخ ۴۴
26 ګران، اکرالله (۱۳۹۴ل) ژوند د خيال په ائينه کې. پېښور: يونيورستټي بک ايجنسي مخ ۷۴
27 ګران، اکرالله (۱۳۹۴ل) ژوند د خيال په ائينه کې. پېښور: يونيورستټي بک ايجنسي مخ۷۵

د ټولنې نظم او دسپلين زيانمن کړي نو طبعي ده، چې دده په روان به هم همدا چاري تاثير کوي او د دوی لار به تعقيبوي، په عربي کې يوه مقوله ده، چې وايي ( لكل مجلس تاثير) له هر چا سره ناسته ولاړه به دې د هماغه خلکو د اخلاقي رنګ په څُم کې رنګ کړي. مګر زموږ د ټولنې د مصلحو وګړو دنده بيا دا ده ـــ چې دا ډول خلک راخپل کړي، له تشدد، کرکې او بدبينۍ يې راوګرځوي او سمه لاره ورته په ګوته کړي، اکرام الله ګران په دې برخه کې هم د خپل مسئوليت د اداينې ډاډ ورکړی او ويلي يې دي، چې له داسي خلکو سره هم ناسته ولاړه کوم، چې په زړه کې يې مينه نشته او د شوري زمکې په شان ترې د هېڅ فصل د زرغونولو تمه هم نه کېږي، خو هڅه کوو، چې دا شاړه اباده او د مينې کر ته يې مناسبه کړو.

زړونه هغه هم خپلوو، چې هېڅ خواړه نه لري
مونږ په شوره زمکه کې هم د مينې کر ته کېنو[28]

## د ګران په شاعرۍ کې انسان دوستي:

د اکرام الله ګران شاعري په ټوله کې دوه عمومي پيغامونه لېږدوي، چې يو يې عدم تشدد او دويم هغه يې انسان دوستي ده، زما هڅه به دا وي، چې مونږ د ګران له شاعرۍ هغه بيتونه راواخلم، چې دغه دوه پيغامونه په کې وړاندې شوي وي، مخکې له دې، چې د ګران د شاعرۍ د انسان دوستۍ پر برخه پيل وکړم، ښه مې وګڼله، چې د انسان دوستۍ په مانا او مفهوم پوه شو او هم وګورو، چې له اسلام پرته په نورو اديانو کې انسان دوستي څه رنګ تمثيل شوې او په اړه يې څه وايي!؟

انسان دوستي او مينه پالنه يو بهترينه اخلاقي وجيبه ده، چې د يوې موثرې، سوکاله او ايډيالې ټولنې په رامنځته

[28] ګران، اکرالله (۱۳۹۴ل) ژوند د خيال په ائينه کې. پېښور: يونيورستټي بک ايجنسي مخ ۱۲۶

کولو کې خورا مهم نقش لري. انسان دوستي په ټولنه کې د بې شمېر ناوړه کړنو لکه کینه، غیبت، قتل او غلاوو د ګراف په راټیټولو او یا ختمولو کې موثر ثابتېږي. د انسان دوستی اصلي مانا په نوم بشر سره مینه لرل دي، یانې هر انسان، چې په هر نسبت له انساني ارزښتونو برخمن وي د دوستی او همدلی وړ دی، د ټولو الهي ادیانو پیغام محبت او د انسانیت درناوی دی، اسلام بیا په ټولو ادیانو کې دې برخې ته په ډېر ارزښت قایل دی، مسلمانان سره ورونه او د یوه بدن غړي بولي او د دوی تر منځ یې بهتروالی یواځې په تقوا او پرهېزګاری پوري تړلی دی.

**د انسان دوستی مانا:** انسان دوستي (Humanism) که څه هم دا یوه نوې غوندې اصطلاح ښکاري، خو دا تصور د هغې زماني راهیسې له انساني فکر او شعور سره ملګری پاتې شوی، چې له کله راهیسې انسان د خپل ځان، د خپل چاپېریال او ګردو کائناتو په اړه سوچ او فکر کول پیل کړي دي. دا تصور کله مختلفو مفکرینو په فلسفه کې وړاندې کړی او کله په بېلابېلو مذاهبو کې په پرلپسې ډول راغلی، خو د انسان دوستی (Humanism) نوم د څوارلسمې او شپاړسمې زېږدیزې پېړیو تر منځ د وخت د مفکرینو د افکارو لپاره کارول شوی دی. ددې وخت مفکرینو وغوښتل، چې د یونان د کلاسیکو مفکرینو او روڼ اندو افکار په نوې بڼه وړاندې کړي، چې د انساني صلاحیتونو، د انساني ژوند د ښائست او د روان ژوند حقیقت منل په کې شامل وو.[29]

د انسان دوستی د مانا او مفهوم په اړه د پام وړ معلومات وړاندې شول، اوس به د ګران د شاعری هغه بیتونه هم تر نظر لاندې راولو، چې منځپانګه یې د انسان دوستی له پیغامه خړوبه ده.

[29] مرجان، اصل (۲۰۰۸ز) پښتو کلاسیکي شاعری کې د انسان دوستی تصور: پېښور اکاډمي مخ ۲۸

دار لـه سره رسېدی شي ګرانـه

غوا ړي دنيـا تـه کـه پـيغـام د مـيـنـې[30]

چرتـه آزار مـې څوک پـه چـارو نـه شي

بـــې وســـه شـــه يـــمـــه لاچار شه يم

هر انـسـان خـپـل طبـعي خـواص، عـادتـونـه، غـوښـتـنـې او هـيـلـې لـري، ځـيـنـې داسې خـلـک هم پـه ټـولـنـه کـې لـرو، چې ډېـر خـوا ږه الـفـاظ کـارو ي، خـو انـداز يـې جـالـب او پـرکـشش نـه وي، ځـيـنـې داسې هم شتـه، چې تـرخې خـبرې کـوي، خـو تـوجـه ورګـرځـي او خلـک يـې د اوريـدو لـيـوالـه وي، داسې انـسـانـان هم شتـه، چې د نـورو د سـتـونـزو او مـشـکلاتـو د حل لـپـاره پـه خـپـل تـوان کـوشش کـوي، ګـران هم خـپـل خـاص انـداز لـري او هر چا تـه د هغـه د ژونـد د سهـولـت لـپـاره خـپـل ټـول امـکـانـات مخ تـه ږدي، ځکـه هغـه پـه دې پـوه دی، چې پـه اوس وخت کـې د ژونـد چـارې سختـې دي بـايـد انـسـان د انـسـان خـدمـتـګـار شي، هغـه يـواځې مـيـنـه لـري او وايـي، چې زمـا مـيـنـه کـه سـتـاسې پـه کـار راشي ډېـره ښـه ده، کـه نـه بـلـه لاره مـا تـه هم نـه ده پـاتـې:

چې زمـــا مـيـنـه سـتـا پـــه کـــار نـه راځي

مـــــــه لـــه جـــانـــانـــه بـــلـــه لار نـه راځي

زمـا د زړه پـه چـــيـنـه ځــلـې دې کـيـږدي

چې مـيـخـانـو کـښې د چا وار نـه راځي

يـاره ګـل ګـل فـــــکـــــرونـو وســـــېـزلـم

تــــاو د غُــصې پـه سور انـګـار نـه راځي

31

[30] ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ايجوکيشنل پرنټرز، مخ ۴

[31] ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ايجوکيشنل پرنټرز، مخ ۱۵۱

ګران خپلې موخې ته د ژمنتیا له مخې د خپل پیغام رسولو لپاره د دار تر سر تر ټولو بهترین مقام او موقع ګڼلې او ویلې یې دي، چې دغه پیغام له دې ځایه لا ښه رسېدای شي او اغېز به یې هم زیات وي، نوموړی په دې ګروهمن وو، چې د نفرتونو په اوج کې د محبت سندرې ویل خامخا دا سزا لري، چې تر داره دې ورسوي، خو غنیمت به دا وي، چې د دار له سره هم خپل پیغام وړاندې کړي او له دې بیته دا برداشت هم کېدای شي، چې ووایو ګران د مرګ تر ساعته، تر هغې شېبې، چې دی په کې پانسي کېږي او په دار ځړول کېږي له انسانیت سره د مینې پیغام رسونې ته ژمن دی.

هر څه دې مري
انسانیت دې نه مري
له دې دنیا نه محبت
دې نه مري
زما د زړه په مشعل هر
څوک دې ځي
خو په سیلیو د
رقابت دې نه مري
د ګران په قبر که
واښه زرغون شي
یاران ژوندي دې وي صحبت دې
نه مري [32]

انسانیت او محبت دوه داسې څه دي، چې یو د بل متمم دي، چېرته، چې انسانیت وي هلته به محبت هم وي او چېرته، چې انسانیت نه وي هلته د محبت تصور کول هم ممکن نه دي.

دلته د ګران تینګار هم پر دې ـ چې له نړۍ که هر څه لاړ شي او یوازې انسانیت و محبت پاتې وي بیا هم نړۍ د

[32] ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ایجوکیشنل پرنټرز، مخ ۲۴

ړنګېدو له ګواښ سره نه ده مخ، خو که نړۍ هر څومره پرمختګ وکړي، د ژوند وسایل او امکانات که هر څومره عصري او د ټکنالوژۍ پر مټ سنبال شي او د انسانیت کمی وي بیا به هم انسان سوکاله ورځ ونه لري، نه به ژوند نه خپله خوند واخیستلی شي، نه به بل ژوند کولو ته پرېږدي، ځکه دانسانیت تقاضا محبت دی او محبت داسې څه دي، چې وحشي حیوان اهلي کوي او چې له انسان نه انسانیت او محبت بیل کړې هماغه وحشي ځاروی پاتې کېږي او بس!

ټول انسانیت د برابر په تول

سپکه غواړمه خلقه نه درانه غواړم[33]

ګران د لویو لویو دعوو، هیلو او ارمانونو پالوونکی شخصیت وو، د هغه پر دې سود نه کېده، چې دی، دده کورنۍ او اولادونه دې سوکاله وي، هغه همدغه سوکالي غوښتله، خو د ټولو لپاره یې غوښتله، له هغه سره تر هر څه لوی ارزښت انسانیت وو، دا چې انسان په کوم مذهب پورې اړه دا خبره ګران بېخي نظر انداز کړې وه او دا یې د انسان شخصي مسایل ګڼل او پر دې باور وو، چې الله جل جلاله انسانانو ته څوارلس سوه کاله وړاندې د خپل وروستي استازي حضرت محمد صلي الله علیه وسلم په واسطه دا پیغام ورکړی، چې د اسلام دین یو بشپړ دین دی او ستاسې د دنیا او اخرت سوکالي په کې ده او تر څنګ یې دا هم ویلي، چې انسان په خپلو چارو او انتخاب کې ازاد دی، چې څه کوي اختیار یې دی، بل پلو الله جل جلاله یوازې د مسلمان، عیسوي او یا هندو رب نه دی، هغه رب العلمین دی او په دې کې ټول انسانیت شامل او ټول هغه څه شامل دي، چې پر زمکه، تر زمکې لاندې او په اسمانونو کې دي، ګران د انسانیت خبره په همدې خاطر کړې، چې موږ دلته تر ټولو ستره رشته، چې په خپلو کې لرو هغه

---

33 ګران، اکرام الله. (۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ایجوکېشنل پرنټرز، مخ ۴۳

د انسانیت رشته ده او باید دي ته درناوی وشي او په دي کې داسي نه، چې یو انسان له بل محترم وګڼل شي.

ګرانه، چې زه انسانیت خوښوم

زما دښمن خو هم انسان یادیږي[34]

ما په خپل ژوند کې د ډېرو مبارزینو ژوند لیکونه لوستي، یو شمېر داسي خلک مې هم لیدلي، چې یوې مشخصې ایډیالوژۍ ته د ژمنتیا له مخې ډېر کلله له داسي څه تېر شوي، چې هغه دده شدیده اړتیا وي، خو له ایډیالوژۍ سره یې په ټکر کې وي، یا یې ځیني وخت داسي یوه خبره، چې په هغه موقع یې کول بېځي اړین وي، خو دا چې د هغه له ژمنې، مبارزې او تاکلې لارې سره په ټکر کې ده؛ نو خپله خبره یې خوړلې.په ګران هم همداسي شوي، هغه، چې کله نورو ته د انسانیت پیغام ورکوي، نو دې ته یې هم پام کېږي، چې داسي ده؛ نو هغه ته، چې چا ته دښمن وایې، هغه خو هم انسان دی، ولې یې دښمن ګڼې، ولې یې ذلیل غواړې او انسانیت ته یې درناوی نه کوې، دی له خپلې هرې دښمنۍ تېر دی او خپل دښمن هم ورته ښکلی دی.

**نتیجه :**

د دې ټول بحث نه دا نتیجه اخذ کیږي چې اکرام الله ګران چې په خپله شاعرۍ کښې خلقو ته کوم پېغام وړاندې کول غواړي نو هغه صرف د امن ، ورولۍ، انسانیت ، عدم تشدد او انسان دوستۍ دے ــ او دا د اخلاقیاتو تقاضههم ده کهٔ چرې د ګران بابا په دغه پېغام عمل اوشي نو په دیا کښې به په صحیح معنا انسان ژوند ته اړ شي ــ خوشحالي او سوکالي به راشي او ټول انسان به د یو بل سر شېر و شکر شي ــ

[34] ګران،اکرام الله(۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ایجوکیشنل پرنټرز، مخ ۱۲۶

Pukhtunkhwa Journal

## کتابیات


۱: گران،اکرام الله(۲۰۰۲ز) زما غزل. لاهور: ملت ایجوکیشنل پرنټرز

۲: ارچیوال، احمد الله. (۲۰۱۸ز) خدایی خدمتګار کلتوري اغیزې. کابل: سروش کتابپلورنځی

۳: مطهري، عبدالعلي. (۱۳۸۷ل) خوشحال کلیات.تهران: علومو اکاډمي مطبعه

۴: د ګران بابا د شخصي، سیاسي، ټولنیز ژوند او د وفات په اړه راته د هغه مشر زوی ابو ذر په ټیلفون ویلي وو.

۵: ارچیوال، احمد الله. (۲۰۱۸ز) خدایی خدمتګار کلتوري اغیزې. کابل: سروش کتابپلورنځی

۶: باچا خان، عبدالغفار. (۲۰۰۸ز) زما ژوند او جدوجهد. پېښور افغانستان کلتوري ودې ټولنه – جرمني، دانش خپرندویه ټولنه

۷: ژړک، محمد صادق. (۲۰۱۷ز) پښتونواله. کوټه: پښتو نړیواله مرکه مخ ۲

۸: باچا خان، عبدالغفار. (۲۰۰۸ز) زما ژوند او جدوجهد. پېښور افغانستان کلتوري ودې ټولنه – جرمني، دانش خپرندویه ټولنه

۹: ګران، اکرالله (۱۳۹۴ل) ژوند د خیال په ائینه کې. پېښور: یونیورستټي بک ایجنسي

۱۰: مرجان، اصل (۲۰۰۸ز) پښتو کلاسیکي شاعرۍ کې د انسان دوستۍ تصور: پېښور اکاډمي